د PWCS ګرانو کورنيو،

د ويرجينيا د ښوونې او روزنې رياست (VDOE) د زده کړې په معيارونو (SOLs) کې د زده کوونکو اکاډميکې پرمختګ
سنجولو کې د مرستې په موخه د ويرجينيا د ارزونې پروګرام جوړ کړی دی. دا چې زده کوونکي بايد په څه باندې پوه وي او
بايد د لوست، ليک، رياضي، ساينس، او تاريخ/ټولنيزو مطالعاتو په برخو کې څومره فعاليت وکولی شي، SOLs د ويرجينيا
دولت مشترکه (کامن ويلت) توقعات په ډاګه کوي. د SOLs نقل/کاپی د VDOE په ويب پاڼه
[http://www.doe.virginia.gov](http://www.doe.virginia.gov) کې په آنلاين ډول شتون لري.

هر کال، د بيلابيلو ټولګيو په کچه د زده کوونکو څخه تمه کيږي چې د SOL په آزموينو يا بديلو ارزونو کې ګډون وکړي پرته
له دې که په مشخصه توګه د آيالت يا فدرال قانون له مخې يا د ويرجينيا د ښوونې او روزنې تعليمي بورډ مقرراتو لخوا معاف
شوي اوسی. د 3 څخه تر 8 پورې ټولګيو کې ډيری زده کوونکي به په کلنۍ توګه په يو ډول SOL آزموينې يا ارزونې کې
ګډون کوي. د عالي ښوونځی زده کوونکي معمولا په هغه وخت کې ګډون کوي کله چې هغوي د فراغت په لور تصديق شوي
کريډيټ ترلاسه کولو يا د فدرال د ګډون شرايط پوره کولو په موخه د لار موندلو نمرو ته اړتيا لري. د SOL ځينې آزموينې،
لکه الجبرا I، يوازې د کورسونو د بشپړولو په پای کې اخيستل کيږي. د SOL ځينې آزموينې، لکه د لوست او ليک يو ځای
شوي آزموينه، د زده کوونکو څخه يوازې په 5 او 8 ټولګيو کې اخيستل کيږي. د VDOE پر اساس، والدين کولۍ شي چې د
هغه څه سربيره چې د آيالت او فدرال قانون له مخې اړين دي، د خپلو زده کوونکو لپاره په اضافی آزموينو کې د ګډون کولو
لپاره هم غوښتنه وکړي که چيرته زده کوونکی اوس مهال په اړونده کورس کې شامل وي.

کله چې آزموينه بشپړه شي، ستاسو د زده کوونکي د فعاليت په اړه معلومات به له تاسو سره شريک شي. په PWCS کې د
عمومي آزموينې په اړه د لا زياتو معلوماتو لپاره، مهرباني وکړئ زمونږ ويب پاڼه وګورئ:

[https://www.pwcs.edu/departments/accountability/testing/testing_calendar](https://www.pwcs.edu/departments/accountability/testing/testing_calendar)

ستاسو د زده کوونکي د اصلی يا ريښتنی آزموينې نيټو يا د هغه آزموينې لپاره چې هغوي به پکې ګډون کوي، په اړه يی د لا
زيات مشخص معلوماتو لپاره مهرباني وکړئ په مستقيم ډول د خپل زده کوونکي د ښوونځي سره اړيکه ټينګه کړئ.

په ډير درنښت،

Paul F. Parker, Ph.D.
د آزموينو څارونکی

DR. PAUL F. PARKER,
Supervisor of Testing
Department of Research, Accountability, & Strategic Planning
P.O .Box 389, Manassas, VA 20108 • www.pwcs.edu • 703-791-8308 • FAX 703-791-7366